مګر دا دواړه محدود دي، او دا سې هیڅ یو شی کولے چه زمکے یا آسمان غونډے یو غټ مخلوق ته حکم ورکړي، لیکن قرآن طوفانِ نوح علیه السلام کښې زمکے او آسمان ته دا سې حکم ورکړو:-

يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي (سورة هود آیة ۴۴) اے زمکے خپلے اُبه تیرے کړه او اے آسمانه! اُبه بندے کړه:-

او دا حکم ئے جاري هم کړو. د دُنیا لوئے بادشاهان د خلقو د خوشامدو تقریرونه او خبرے دے د پاره کوي چه هغوي چرته بغاوت ونکړي او حکومت نړوا نخلي، لیکن د یو یو ډیر مُصنّف په قول "قرآن نه دا معلومیږي چه د دے مصنّف چا نه ویریږي" دے نه معلومیږي چه قرآن د خالق کلام دے:-

## (دریم فصل)

### د تفسیر او تاویل او د دے دواړو د متعلقاتو بیان:

(۱) د تفسیر او تاویل د لفظونو معنوی تحقیق:-

تفسیر په عربي لغت کښې د فسر نه جوړ شوے چه د هغے معنیٰ د یو څیز ښکاره کول بیا تول دي او په دے وجه "فارورة"، ته هم تفسره وئیلے شي ځکه چه د هغے په ذریعه ډاکټر د مریض حال ښکاره شي" تاویل په عربي لغت کښې د اَول نه جوړ دے چه د هغے معنیٰ راګرځیدل دي، د تاویل اصطلاحي معنیٰ هم د غسے د قرآن الفاظ ته لوا احتمالي معنیٰ کانو کښے یو معنیٰ ته راګرځول دي،

د تفسیر او تاویل په شرعي او اصطلاحي معنیٰ کښے څو اقوال دي

(۱) د ابو عبیده قول دے چه دواړه یو معنیٰ لري (۲) امام راغب فرمائي چه تفسیر عام لفظ دے د کلامِ الهي تشریح او د کلامِ انساني تشریح (دواړو) ته وئیلے شي، مګر تاویل یواځے د کُتب الهیه تشریح ته هم وئیلے شي:



(۳) د امام ابو منصور ماتریدي دا رائے ده، چه تفسیر دے ته وائي چه د قرآن مُراد یقیني طور متعین کړے شي، او تاویل به دے ته وئیلے شي چه احتمالي معنے کانو د قرآن کښې یوه معنیٰ غیر یقیني طور متعین کړے شي، (روح المعاني جلد اول ص ۴ الاتقان، جلد ۲ ص ۱۷۳) خو زمونږ په نزد دے اقوالو کښے څه اختلاف نشته صرف دا اصطلاح کانو اختلاف دے د متقدمینو اصطلاح دا ده چه تفسیر او تاویل دواړه په یو معنیٰ کښے استعماله وي او د تفسیر په موقعه لفظ د تاویل هم استعمالوي، تفسیر ابن جریر دا طرز غوره کړے دے، ابو عبیده دواړه هم معنیٰ بولي د هغه په هم دا اصطلاح د متقدمینو ده او د متأخرینو اصطلاح هغه ده کومه چه ابو منصور ماتریدي بیان کړیده چه تفسیر هغه دے چه یو یقیني دلیل سره مُرادِ الهي متعین کړے شي او تاویل به هغه وئیلے شي چه د احتمالي معنو کانو کښے یو معنے په ظن او اجتهاد متعین کړے شي. د امام راغب فرق حقیقي نه دے بلکه د متعلق په اعتبار یو اصطلاحي فرق دے. چه د تاویل تعلق د کتب الهیه د تشریح سره دے او تفسیر عام دے:-

(۴) د ارتلث دا قول چه روایة د قرآن د معنیٰ متعین کول، تفسیر او درایةً متعین کول تاویل دے:

(۵) یا کومه معنیٰ چه د قرآن د عبارت نه واضح معلومیږي هغه تفسیر او کومه چه په اشارے د الفاظو سره معلومیږي هغه تاویل دے:-

اتول د متأخرینو اصطلاح کانے دي کوم ای د قدماؤ په اصطلاح کښے دواړه یو معنے ده چه صاحب قاموس دا ښکاره بیان کړیده او د متأخرینو اصطلاح علامه آلوسي په روح المعاني کښے بیان کړیده:-

(۲) د تفسیر، تعریف، موضوع او غایة (غرض)

علامه آلوسي په روح المعاني کښے د علم تفسیر دا تعریف کړے دے، چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

علم تفسیر هغه علم دے، چه په هغې کښې د قرآن د الفاظو طرز تلفظ او بره معلومیږی د قرآن نرومبی مخاطبو (صحابه کرامو او عربو) ته د مفردا تو د قرآن مدلولات او معانی مراده او د هغې افرادی او ترکیبی نزول قرآن په وخت دے علومو ضرورت نه وو ځکه د هغوی احوال او د نورو متعلقاتو بحث وی او په قول د صاحب د مناهل العرفان به هر داوه په دے کښې د هغوی طبعی مهارت وو او فطری ذوق ئے هم رجلا و اصطلاح د دے مختصر تعریف دا دے، چه علم تفسیر قرآن سره دے لرلو نو ځکه هغوی د دے علومو د مقاصدو ماهرو وو، لیکن د غیر نزل د هغه تحقیق نوم دے، چه د هغې نه مراد الٰهی متعین کیدے شی د نبوت او نزول قرآن د زمانې نه پس د نورو عربو د پاره د قرآن د پوهې د قدما او د اصطلاح مطابق قرآن د تفسیر او تاویل یو معنی بنودلے په غرض دے د علومو مهارت ضروری اوګرځیدو ځکه چه رښتنی سورۂ فرقان کښې دی ﴿وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا﴾ آیة ۳۳ په بل ځائے کښې ارشاد دے. ﴿وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ﴾ د دے شرط ضرورت بچیله د قرآن نه ثابت دے. ﴿إِلَّا اللَّهُ﴾ (آل عمران آیة ۷) موضوع د علم تفسیر کلام د دے روح المعانی ﴿نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ۝ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ﴾ او غایة او غرض د علم تفسیر د مراد الٰهی علم حاصلول په دے غرض دا قول د الله تعالیٰ ﴿إِنَّا أَنزَلْنَاهُ قُرْآنًا عَرَبِيًّا لَّعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ﴾ چه په اعتقاد او عمل کښې د هغې تابعداری اوکړے شی. د آیتونو نه صفا بیانوی، چه دا کتاب په عربئ ژبه کښې د هغې د قواعدو

## د تفسیر او د مطالبو د قرآن د پوهې آداب او شرائط

مطابق نازل شوے دے، په دے وجه د قرآن د پوهې د پاره د علم روح المعانی، الاتقان، برهان، مناهل العرفان او په نورو کتابونو کښې د لسان یعنې د عربی د ټولو شعبو علم حاصلول ضروری دی او عامه تفسیر د اهلیت او استعداد او د قرآن د پوهې د قابلیت د پاره څو قاعدې هم دا ده چه په اردو ژبه کښ د غالب یا د مومن د دیوانونو شرطونه ذکر دی موږ به دا سره د دلائلو به ذکر کړو:

**علم اللغة یا علم اللسان.** د مفسر قرآن د پاره د قرآن د ژبې پوهه د اردو ژبې د قواعدو او په هغې کښې د مهارت حاصلولو نه بغیر (عربئ) مهارت ډیر ضروری دے. ممکنه نه ده.

**علم السنة.** د قرآن د پوهې د پاره علم السنة هم ضروری او د مهارت په دے علومو حاصلیږی، د مفردات قرآن د مدلولاتو دے او د صاحب قرآن علیه السلام نه بغیر د قرآن د موقعو استعمال تحقیق چه دا به په علم اللغة سره کیږی، د قرآن پوهه ناممکنه ده چه د هغې د پاره علم السنة والحدیث ضروری دے مفرداتو لسانی تغیرات او تصرفات چه دا به علم الصرف والاشتقاق په دے د پاره چه د نزول قرآن اسباب. د قرآن د مجملاتو تشریح او د ذریعه حاصلیږی، د مرکباتو او د قرآن د جملو د تغیراتو او تصرفاتو ابهاماتو وغیره د تعین علم حاصل شی ورنه په قرآن کښې د معانیو او د حرکاتو او اعرابو د تبدل چه دا په علم النحو سره معلومیږی، د تراکیبو حکم شوے دے لیکن دا وضاحت نشته چه د مونځ څو رکعتونه دی د الفاظو د انتخاب او د محل استعمال د نکتو او د اسرارو چه دا په علم البلاغت، څو مره دے. د مونځ وخت د کوم ځائے نه شروع کیږی

